AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخړ

۲۰۲۶/۰۸/۱۹

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(شپږویشتمه برخه)



(بې‌نظیر بوټو او د بلوڅو مشر، شهید اکبرخان بګټي)

**پنجابی پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګانې(۲۲)**

**بې‌نظیر بوټو چا ووژله؟ جنرال پرویز مشرف او نور (۴)**

لکه چې په تېرو پانو کې هم یادونه شوې وه، له هغې ورځې چې پاکستان جوړ شوی، د پاکستان هېڅ یوه لومړي وزیر هم خپله تاکلې قانوني موده نه ده پوره کړې، ټول لومړي وزیران، د واکمنو جنرالانو لهخوا په بېلابېلو تورونو تورن شوي او له خپلو دندو ګوښه شوي دي. بې‌نظیر بوټو او د هغې پلار ذولفقارعلي بوټو هم د پوځیانو لهخوا له دندو ګوښه او تر دې چې د بې‌نظیرې پلار د همدغو پوځي جنرالانو لهخوا اعدام شو.

په دې هکله د پيپيپي ګوند د ۲۰۰۸ز. کال د ټاکنو په منشور کې (چې د بې‌نظیر بوټو تر نظر لاندې لیکل شوی دی) لیکي چې «په پرمختللو هېوادونو کې هغه کسان زندان ته لېږل کېږي چې د قانون عظمت او حاکمیت یې تر پښو لاندې کړی وي. **خو زموږ په هېواد کې ډېر خلکه د ظلم او بې‌عدالتۍ قربانیان زندانونو ته استول شوي دي. او د پاکستان هر منتخب مشر د خپلې واکمنۍ په وروستیو کې، له سپکاوي، زورونې او جنایي تورونو سره مخ شوي دی،** حال دا چې هېڅ پوځي دیکتاتور، حتا هغه کسان چې هېواد یې ټوټه ټوټه کړ او اساسي قانون یې تر پښو لاندې کړ، د خپلو کړنو مسؤلین نه دي پېژندل شوي.»[1]

[1] :https://www.pppp.org.pk/manifestos/manifesto2008.pdf


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

له دې امله وه چې بې‌نظیر بوټو غوښتل د خپل درېیم ځل لومړي وزارت پر مهال د پوځ، استخباراتو او پولیسو واکونه راټیټ او اصلاح کړي تر څو ملکي او انتخابي حکومتونه وکولی شي خپلې دندې تر قانوني موديې پورې وغځوي. هغې د دیني مدرسو اصلاح او د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې ژمنه هم کړې وه **چې د بې‌نظیر بوټو همدا دریځونه د هغې د مرګ سبب شول.**

د بې‌نظیر بوټو دا ډول دریځونه د پاکستان د ۲۰۰۸ز. کال د پي‌پي‌پي د ټاکنو په کړن‌لاره (منشور) کې ښه څرګند دي، په دې تړاو له نوموړي منشور څخه اړین مالومات رااخلو:

## د پوځ او استخباراتو اصلاح:

**د بې‌نظیرې په ټاکنیز منشور کې راغلي چې ترهګري د پوځي دیکتاتوریو په غېږه کې وزېږېده، هماغه رژیمونه چې سختدریځي ډلې یې جذب او بیا یې وروزلې، وسلوالي او تمویل یې کړې...** په ۱۹۹۶ز. کال کې د پيپلز ګوند د حکومت له ګوښه کېدو وروسته، پاکستان له ترهګرۍ، وسله‌والي سختدریځۍ او افراطیت سره وتړل شو... .
**د پوځي رژیم د پالیسی له امله، د پاکستان د قبایلي سیمو د خپلواکې خاورې کنټرول بهرنیو [د القاعدې] کسانو ته ورپېښودل شوی چې له امله یې قبایلي سیمې FATA د وسله‌وال افراطیت او سختدریځۍ لپاره په خوندي پناځای بدله شوې ده.**
په نوموړي منشور کې وايي **چې ټولې امنیتي او استخباراتي اداري، د ISI او MI په ګډون، به د منتخب لومړي وزیر پر وړاندې مسؤلې وي؛** هغه ټول قانوني معافیتونه او مصونیتونه چې د پوځي حکومتونو له خوا ورکړل شوي، له سره به وڅېړل شي؛ دفاعي بودیجه به پارلمان ته وړاندې کېږي او یوازې د پارلمان له تصویب وروسته به اجرا کېږي؛ پوځي ځمکې او پوځي چونې به د دفاع وزارت تر اداري لاندې وي.

همدا ډول د بې‌نظیرې په ټاکنیز منشور کې راغلي چې **«د اتومي وسلو د قوماندې او کنټرول واک به د کابینې د دفاعي کمېټې تر واک لاندې وي.»**[2]

سره له دې چې په نوموړي منشور کې د پاکستان د اقتصاد په اړه د پراخو وړاندیزونو او پلانونو یادونه شوې ده خو د منشور په یوه برخه کې د اقتصاد او پوځي لګښتونو په اړه راغلي:«موږ باور لرو چې د یو هېواد د ځواک اصلي معیار بازارونه دي، **نه ټوغندي.**[3]

## د پولیسو اصلاح

په منشور کې د پاکستان د فاسدو او غلو پولیسو د اصلاح ژمنه هم شوې وه: **پي‌پي‌پي ګوند به داسې د پولیسو یو مسلکي ځواک رامنځته کړي چې یوازې اساسي قانون او د قانون واکمنۍ ته وفادار او ژمن وي او د پيپلز ګوند به د سیاسي موخو لپاره د پولیسو د کارولو دود ته، د پای ټکی کېږدي.**[4]

## دیني مدرسې او د دیني زده‌کړو اصلاح

---

[2]:https://bhutto.org/wp-content/uploads/2020/12/UN-Report-on-Mohtarma-Benazir-Bhuttos-Assassination.pdf

[3]:هماغه سرچینه.
[4]:هماغه سرچینه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالېږلو مخکې په خیر و لولئ

په منشور کې لولو:«موږ د داسي نوي نسل د ملي ېيلتون تخمونه شيندو چي د کرکې او بې‌بنسټه وېرې پر بنسټ روزل کيږي او له ټولني پردی کيږي چي په دې توګه روزل شوی افراطيت، د قائداعظم [محمد علي جناح] د فدرالي پاکستان د ليدلوري لپاره تر ټولو ستر ګواښ ګڼل کېږي.
په ۱۹۸۰زېږديزه لسيزه کې د افغانستان د جهاد پر مهال، د بېلابېلو ډلو مالي ملاتړ د سياسي مدرسو د ډېرېدو لامل شو. **چي په دغو مدرسو کې ډېري مدرسي تعليمي اداري نه دي، بلکې د وسلهوالو د جلب او جذب نارسمي مرکزونه او د وسلو زېرمه‌تونونه دي چي راکټ لانچر او کلاشينکوفونه په کې ساتل کېږي.**
منشور په پای کې دا هم وايي چي **هيڅ وسلهواله ډله به اجازه ونه لري چي د مدرسي تر نوم لاندې د خپلو پوځي فعاليتونو لپاره پناځای جوړ کړي.** مدرسي به اصلاح شي تر څو په رښتيني مانا داسي روزنيز او علمي مرکزونه شي چي ماشومانو ته سالمه او ګټوره زده کړه وړاندې کړي.[5]

## [د القاعده او ټي‌ټي‌پي د ځيلو ژمنه]

لکه څرنګ چي پاکستانيو جنرالانو، وسلهوال طالبان پر دوو برخو: **ګوډ طالبان، بد طالبان**[6] (Good Taliban / Bad Taliban) ويشلي وو، د بې‌نظيرې په ټاکنيز منشور کې يادونه شوي وه چي ټولي وسلهوالي ډلي به وځپي او نور به د ترهګرو ډلو تر منځ توپير نه وي.
منشور زياتوي:**«پيپلز ګوند به هغه وسلهوالي ډلي له منځه يوسي چي غواړي د هېواد بهرنی پاليسي يرغمل کړي او د پاکستان په قبايلي سيمو او نورو ځايونو کې د زور له لارې خپله واکمني ټينګول غواړي؛ نور به د بېلابېلو ترهګرو ډلو ترمنځ، توپيري پاليسی ته دوام ورنه کړل شي او له ټولو ترهګرو ډلو سره به يو ډول چلند کېږي؛ د ترهګری او وسلهوال افراطيت پر وړاندې به کلکه مبارزه کېږي؛ موږ ژمنه کوو چي پاکستان به له تاوتريخوالي، سختدريځی او ترهګری څخه پاک کړو.»**[7]
هغه مالي مرستي چي د امريکايانو او غربيانو لهخوا د ترهګرۍ پر وړاندې د جګړې په نوم، پاکستان ته ورکول کيدلي او ډېره ګټه يې پاکستانيو جنرالانو ترلاسه کوله، د بې‌نظير بوټو منشور يې په اړه ليکي چي «... هغه مالي فرصتونه چي **د ترهګری پر ضد د جګړې په موخه د نړيوالو مرستو له امله رامنځته کېږي، د ملي ګټو لپاره وکاروي.»**

## [ډيورنډ کرښې ته څېرمه نيمه‌خپلواکو پښتنو ته د امتيازاتو ورکولو ژمنه]

بلي خوا بې‌نظير بوټو په نظر کې لرل چي پښتنو، بلوڅو او کشميريانو ته ځانګړي امتيازات ورکړي چي دا ډول امتيازات ورکول د پاکستانيو جنرالانو د خوښي خلاف کار ؤ، بې‌نظير بوټو په نظر کې لرل چي په لومړي ګام کې د خپلواکو قبايلي پښتنو سيمې، د انګرېزانو له استعماري او ناانساني قانون **(د سرحدي جرمونو مقررات (Frontier Crimes Regulation – FCR) چي په عامه**

---

[5]:https://bhutto.org/wp-content/uploads/2020/12/UN-Report-on-Mohtarma-Benazir-Bhuttos-Assassination.pdf
[6]: د **ښو طالبانو** او **بدو طالبان** (Good Taliban / Bad Taliban) اصطلاحات په پاکستاني خبري رسنيو کې د ۲۰۰۱ز. کال وروسته د جنرال مشرف د واکمنۍ پر مهال، ډېر ياديدل. د مشرف او پلويانو په باور، ښه طالبان هغه وو چي په پاکستان کې يې بريدونه نه کول او په افغانستان کې يې د بهرنيانو او افغان حکومت پر وړاندې جګړې کولي. بد طالبان هغه وو چي په پاکستان کې يې بريدونه کول، لکه ټي‌ټي‌پي او نوري ډلي.
[7]:https://bhutto.org/wp-content/uploads/2020/12/UN-Report-on-Mohtarma-Benazir-Bhuttos-Assassination.pdf


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

**اصطلاح کې د تور قانون په نوم هم يادېده.)** بدلون راولي څو د دغو سيمو خلکو ته په محاکمو کې د مرافعې او استيناف غوښتنې حق ورکړل شي.

بې‌نظيرې غوښتل د خپلواکو قبايلي سيمو له خلکو سره، له سلا مشورو وروسته په شمال لوېديځ سرحدي ايالت [اوسنی خيبر پښتونخوا] برخه به وګرځول شي؛ شمالي سيمو ته به ځانګړی قانوني حيثيت او زيات واک ورکړل شي؛ پښتنو ته به د تعليمي پرمختګ او اقتصادي ودې لپاره پروګرامونه پراخ کړي، د کارموندنې فرصتونه به زيات کړي او په کالجونو، پوهنتونونو او دولتي ادارو کې به د هغوی ونډه لوړه کړي.[8]

## د بلوچستان لپاره د امتيازاتو ژمنه

بې‌نظير بوټو په پلان کې درلودل چې له بلوڅو سره اړيکې ښې او حقونه يې ورکړي چې په دې اړه يې څو ځلې د بلوڅو له مشر نواب اکبر خان بوګټي سره ليدنې او خبرې کړې وې، همدارنګه د پخواني ولسمشر حامد کرزي سره يې هم د ډيورنډ کرښې په اړه روښانه او څرګندې خبرې کړې شوي وې.[9]

## له افغانستان سره راتلونکې اړيکې

لکه چې څو ځله مو په پرله‌پسې توګه ويلي چې پاکستانيو واکمنو د افغانستان او هندوستان په هکله ښه نيتونه او ښې موخې نه لرلې او څومره يې چې له لاسه شوي هر يوه افغانستان ته ډول، ډول زيانونه اړولي دي خو ميرمن بې‌نظير بوټو د پاکستان د ۲۰۰۸ز. کال د ټاکنو پر مهال د پاکستانيو چارواکو او د خپل پخواني دريځ برعکس څرګندونې کړي وې هغې وويل چې **«پوځي ديکتاتورانو د افغانستان او پاکستان له نږدې جغرافيايي موقعيت او د نړيوالې ټولنې لپاره د پاکستان له ستراتيژيک اهميت څخه د خپلو واکمنيو د دوام لپاره ګټه پورته کړې ده.**
**پيپلز ګوند به اجازه ورنه کړي چې د پاکستان خاوره د افغانستان خلاف، د پولې هاخوا د ترهګريزو بريدونو لپاره وکارول شي.**
**ګوند د افغانستان په کورنيو چارو کې د نه لاسوهنې اصل ته کلک ژمن دی او د افغانستان د هېڅ ډلې، تنظيم، ګوند يا قوم ملاتړ نه کوي.**
**ـ پيپلز ګوند به په قبايلي سيمو کې د دولت واکمنې بېرته ټينګه کړي، طالب‌پلوه ډلو ته به اجازه ورنه کړي چې د دغو سيمو له خاورې پر ګاونډي افغانستان بريدونه ترسره کړي.**[10]

د بې‌نظير بوټو پورته دريځونه چې په خپلو څرګندونو او ټاکنيز منشور کې يې په ډاګه کړي وو، پر وړاندې يې د هغې ټول مخالفين سره متحد کړل او په پاکستان کې واکمنې کړۍ (استبلشمنټ[11]) چې په نومونړي کړۍ کې د پاکستان واکمن جنرال مشرف؛ استخباراتي ادارې: **آی‌اېس‌آی، اېم‌آی، آی‌بي؛ پوليس، د جنرال ضياء زوی (چې هغه مهال د مذهبي چارو او اقليتونو وفاقي وزير ؤ) او نور ځانځاني (انفرادي) کسان په کې راټول شوي وو.** د القاعدې سازمان، ټي‌ټي‌پي او په پاکستان کې نورې سخت‌دريځې ډلې، د دغه واکمنې کړۍ لمخوا د بې‌نظير بوټو د وژلو په موخه دعوت کړې.

---

[8]:https://bhutto.org/wp-content/uploads/2020/12/UN-Report-on-Mohtarma-Benazir-Bhuttos-Assassination.pdf
[9] :https://larawbar.net
[10]:https://www.pppp.org.pk/manifestos/manifesto2008.pdf
[11]: استبلشمنټ، په پاکستان کې هغه واکمنه کړۍ وه چې د جنرال مشرف پر مشرۍ د پاکستان دولتي ادارو يو شمېر مهم حکومتي چارواکي په راټول شوي وو، لکه: استخباراتي اداري: آی‌اېس‌آی، اېم‌آی، آی‌بي؛ پوليس او نور.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

د ټيټيپي ډله (چې وروسته له لسو کالو يې د مېرمن بې‌نظير د وژلو مسؤليت په غاړه واخيست) د جنرال مشرف او د هغه حکومت، پوليس او د آی‌اېس‌آی استخباراتي ادارو همکاری ته يو ډول اشاره کوي چې له دغو ځرګندونو ښکاري د مشرف واکمنې کړی له ټيټيپي سره د بې‌نظيرې په وژلو کې هر اړخيزه مرسته کړي ده. مفتي نور ولي مسيد په خپل کتاب کې ليکي چې **«د حکومت له لوري هغې [بې‌نظير بوټو] ته مناسب امنيت نه ؤ چمتو شوی چې له امله يې فدايانو هغې ته په ډېرې اسانی سره ځان ورساوه.**
**له چاودني وروسته، د پيښې د ځای تولي نښې او شواهد له منځه يوړل شول تر څو د څېړنو پر مهال د چا لاس ته کوم ثبوت ورنه‌شي. له دې ښځه مالومه شوه چې پرويز مشرف، حکومت او آی‌اېس‌آی د بې‌نظير بوټو د له منځه وړلو په اړه همغږي وو.»**[12]




(د بې‌نظير بوټو قاتلين: جنرال مشرف، آی‌اېس‌آی[13] او د جنرال ضياء زوی اعجازالحق.)

***بل هغه سړی احمق بللی بويه***
***چې د ښځو سره پاځي په جنګونو***
(خوشال بابا)

نېټه:۱۴۰۵/۵/۵ل. ل

**نور بيا**

[د ښاغلی محمد انور اڅړ نوري ليکنې په دی لينک کې ولولئ.](#)

[12]: **انقلاب محسود**، ساؤتھ وزیرستان: فرنگی راج سے امریکی سامراج تک. ۳۹۶مخ
[13]: د آی‌اېس‌آی پخوانی نښان، ظاهراً مارخوړونکی وز ښکاري خو په حقيقت کې کړنې او انځور يې د شېطان دی. د آی‌اېس‌آی نښان ته يې په ۲۰۲۰ز. کال، په وروستيو کې بدولون ورکړ چې په اوسني نښان کې د باز انځور او نور ښکل شوي دي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ